اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

له ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لمونځ پای ته ورساوه نو درې ځلې به يې استغفر الله ويیل، او «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» به يې وويل، يعنې اې الله! ته سلامتيا ورکوونکی يې، او سلامتيا ستا لخوا ده، ډير لوړ دی شان ستا، اې د جلال او عزت خاونده، وليد ويلي: ما اوزاعي ته وويل چې استغفار څنګه وي؟ هغه وويل: چې ووايي: أَسْتَغْفِرُ اللهَ، أَسْتَغْفِرُ اللهَ.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله لمونځ پای ته ورساوه نو: (أستغفر الله، أستغفر الله، أستغفر الله) به يې ويیل. بيا به يې په خپلې دې وينا سره د خپل رب لويي بيان کړه: اللَّهمَّ أنتَ السَّلامُ، ومنْكَ السَّلامُ، تباركْتَ ذا الجَلالِ والإكرامِ " نو الله جل جلاله لره د هغه په صفتونو کې سلامتيا ده او هغه د بشپړو صفتونو خاوند دی، له هر عيب او نيمګړتيا څخه پاک دی، يوازې له هغه پاک ذات څخه د دنيا او آخرت له شرونو څخه سلامتيا غواړي، ځکه په دنيا او آخرت کې د هغه پاک ذات ښېګڼې زياتې دي، هغه د عظمت او نيکۍ خاوند دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10947